# دام وه

خندا دی بل څه نه وه د زړه شکار ته دام وه
د سترګو اشاري دی یاری دی الهام وه
نیمرخ لیده کاته دی پیچلي په تذویروه
د سترګو هر بانه دی ګذارته په قیام وه
د ښکلو په دام کي هیڅوخت نښلي نه اوم
پرهیز ځما دی مات کړ همدا ستا مرام وه
بیواکه دي په زړه کړم پرځان دی خپل اخته کړم
د ستا د کرشمو د پایلي همدا انجام وه
دزلفو په ولول دي د ستګیرزه داکتر «مل» کړم
مستی مي د ځواني وه د زړه بایلو ایام وه
**** جرمنی «08-01-2020